# مطبوعاتي خبرپاڼه

د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره

مرکزي دفتر، شاه محمود غازي واټ، کابل افغانستان

## د ملګرو ملتونو د سرمنشي مرستیال په افغانستان کې له پرمختیایي بهیر سره د ملګرو ملتونو د پرمختیایي ادارې پر ملاتړ ټینګار وکړ

**۱۳ اکتوبر ۲۰۰۸، کابل** --د ملګرو ملتونو د پرمختیایي ادارې مرستیال رییس او د اسیا او پیسیفیک سیمه ییزې بیرو رییس ښاغلي اجې چیبر د اکتوبر له ۱۱ تر ۱۳ مې نېټې پورې افغانستان ته راغلی وو چې د دولت له لوړ پوړو چارواکو سره په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختیایي ادارې د ملاتړ د پیاوړتیا په اړه وغږیږي.

ښاغلي چیبر د خپل سفر پر مهال له یو لړ دولتي چارواکو او د مرستندویه هېوادونو، د ملګرو ملتونو بېلابېلو ادارو او نادولتي مؤسسو له استازو سره وکتل.

د ملګرو ملتونو د سرمنشي مرستیال له یو شمیر مهمو دولتي چارواکو سره پر دې وغږیده چې څنګه د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره له دولت سره د کاري ظرفیت په لوړولو کې مرستې ته ادامه ورکولای شي چې افغان ولس ته د لا ښه خدمت وړاندي کولو جوګه شي.



د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي رنګین دادفر سپنتا سره په ناسته کې ښاغلي چیبر څرګنده کړه چې له افغان دولت سره به د معیشت د ښه والي، د دولت د ظرفیت د لوړوالي او د رایه ورکوونکو د روانې نوملیکنې او راتلونکو ټاکنو په برخه کې خپل اورد مهاله او غښتلي ملاتړ ته ادامه ورکړي. ښاغلي چیبر وویل " افغانستان یو له هغو هېوادونو څخه دی چې د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره په کې تر ټولو ستر پروګرامونه لري". ده زیاته کړه چې "موږ باور لرو چې له دولت سره متداومه او منسجمه مرسته په افغانستان کې د سولې، امنیت او پرمختیا د ودې لپاره ډیره اړینه ده. د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره به افغان دولت سره خپلې مرستې ته ادامه ورکړي چې خپل ولس ته په ښه توګه خدمت وړاندې کړي."

د ملګرو ملتونو د سرمنشي د مرستیال د سفر یوه موخه دا وه چې څنګه د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره کولای شي خپل فعالیتونو سیمه ییزې کچې ته وغځوي. د کلیو د بیا رغونې او پرمختیا له وزیر ښاغلي احسان ضیا سره په خبرو کې ده ژمنه وکړه چې د ملګرو ملتونو

پرمختيايي اداره به د افغانستان له ملي پرمختيايي پروګرام سره خپلې مرستې ته ادامه ورکړي چې د ولسي حاکميت د پياوړتيا، اقتصادي بيارغونې، د بنسټونو د پراختيا او د کليوالې پرمختيا لپاره د انرژۍ نوي نوښتونه لري. د کليوالې پرمختيا او کرنې ترمنځ همري ډېره اړينه ده. ښاغلي چيبر همدارنګه د اداري سمون او ملکي خدمتونو د خپلواک کميسيون له رييس ښاغلي ډاکټر احمد مشاهد سره وکتل او د ملګرو ملتونو د پرمختيايي ادارې د محلي ادارې د پياوړتيا د پروګرام د پرمختګ په اړه ورسره وغږيده.

" که افغان دولت غواړي چې د ټول هېواد په کچه د خدمت وړاندې کولو ظرفيت پياوړى کړى د حکومت کولو او اداري غوره لارې چارې بايد په محلي کچه ځاى پر ځاى کړي." ښاغلي چيبر زياته کړه "موږ د ملګرو ملتونو د پرمختيايي ادارې او دولت تر منځ نږدې همکارۍ باندي وياړو چې غواړي له کابل نه بهر د خدمت وړاندې کولو وړتيا پياوړي کړې. د اداري فساد په وړاندې مبارزه د ولس د باور په زياتولو کې مهم نقش لري.

ښاغلي چيبر همدارنګه د پوهنې وزير ښاغلي حنيف اتمر سره هم وکتل او د نجونو د زده کړې، د پوهنې د بشرى قوا د سمون او د امنيتي وضعيت د ښه والي د لارو چارو په اړه يې ورسره نظريې تبادله کړې. د افغانستان د قانون او نظم امانتي صندوق په اړه د خبرو پر مهال دوى د پوليسو د کار کړنې د ښه والي لپاره د پوليسو د سيسټمونو د سمون د اړتيا په هکله وغږيدل. د ولسمشر د اقتصادي چارو سلاکار ښاغلي عمر زاخيلوال سره په ناسته کې دوى د نړيوال اقتصادي بحران او پر افغانستان يې د اغيزو، د پاليسي جوړولو د ظرفيت د لوړولو او افغانستان ته د بهرنۍ پانګې راجلبولو د روانو هلو ځلو په اړه وغږيدل.

د ملګرو ملتونو پرمختيايي اداره د ملګرو ملتونو هغه نړيواله پرمختيايي شبکه ده چې د بدلون لپاره مبارزه کوي او د خلکو د ژوند د ښه والي لپاره هېوادونه له پوهې، تجربو او سرچينو سره تړي.

په تيرو پنځو کلونو کې د نړيوالې مرستې ۱.۳ ميليارده ډالر د ملګرو ملتونو د پرمختيايي ادارې له لارې د امنيت، دولت جوړونې او معيشت په مهمو پرمختيايي پرواګرامونو کې لګول شوي دي چې په دې کې د اساسي قانون د لويې جرګې بهير؛ د ولسمشرۍ، ولسي جرګې او ولايتي شوارګانو ټاکنې؛ د پخوانيو وسله والو د بې وسلې کولو او ملکي ژوند ته د راګرځولو پروګرام؛ د قانون او نظم امانتي صندوق اداره کول چې د پوليسو تنخاوې ترې ورکول کېږي؛ له ماليې وزارت سره د بودجې جوړولو او بهرنۍ مرستې د همغږۍ په برخه کې مرسته او د افغانستان د ملی پرمختيايي تګلارې په جوړولو کې مرسته شامل دي.

---

د دې خبرپاڼې او يا د ملګرو ملتونو د پرمختيايي ادارې د نورو پروګرامونو په اړه د لاډېرو معلوماتو لپاره هيله ده له فضه حسيني، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختيايي ادارې د رسنيو له مسؤولې، سره د (**fezeh.hosseini@undp.org**) او يا ۰۷۰۰ ۴۷۵ ۷۱۴ (۹۳+) يا ۴۰۹۸ ۲۱۲ (۰) (۹۳+)ټيلفون شمېرو له لارې اړيکه ټينګه کړئ.